هفته واره رساله

د امیرِ اهلِ سُنّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَه د ملفوظاتو تحریري ګلدسته

# د عِلمِ دین

## پهٔ باره کښې 22 سوال جواب



- عِلمِ دین څومره آسان دے؟
- پهٔ لږ وخت کښې د زیات عِلم حاصلولو طریقه
- عِلمِ دین د چا نه حاصلول پکار دي؟
- آیا پهٔ جَنّت کښې به هُم پهٔ عِلم کښې اضافه کیږي؟


شیخِ طریقت امیرِ اهلِ سُنّت حضرتِ علامه مولانا ابو بلال

محمد اِلیاس عطّار قادري رَضَوي دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَه



پیشکش: المدینة العلمیة (دعوتِ اسلامي)

Islamic Research Center

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ النَّبِيّٖنَ ط
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

# د عِلمِ دِين پهٔ باره کښې 22 سوالونه او جوابونه

**دُعائے خليفهٔ امیرِ اهلِسُنَّت:** يا رَبَّ المصطفٰے! څوک چې دا رساله " د عِلمِ دِين پهٔ باره کښې 22 سوالونه او جوابونه " ولولي يا واوري هغهٔ ته د عِلمِ دِين د حاصلولو او پهٔ هغې باندې د عمل کولو توفيق ورعطا کړې او هغهٔ سَره د موره او پلاره بے حسابه اوبخښې-

اٰمين بِجاهِ خاتَمِ النَّبِيّٖن صلّی اللّٰهُ عليهِ واٰلهٖ وسلّم

## د دُرُود شريف فضيلت

**د آخري نبي رسولِ هاشمي** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **فرمان مبارک دے:** چا چې پهٔ شپه او ورځ کښې پهٔما باندې د شوق او محبت پهٔ وجه درې درې کرته دُرُودِ پاک ولوستلو پهٔ الله پاک باندې حق دے چې هغهٔ د هغهٔ د هٰغې ورځ او د هٰغې شپې ګناهونه اوبخښي- (معجم کبير، 362/18، حديث: 928)

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد**

**سوال:** عِلمِ دِين څهٔ ته وئيلے شي؟ آيا صرف د نـمونځ روژې عِلم هُم عِلمِ دِين دے؟

**جواب:** د عِلم مطلب دے: پوهيدل، معلوميدل- د نـمونځ روژې عِلم هم

بے شکه عِلمِ دِين دے، خو د دې نه علاوه هم ډير څيزونه پۀ عِلمِ دِين کښې داخل دي- پۀ عِلمِ دِين کښې ډيره فراختيا ده او دا دومره زيات دے چې ټول عِلم خو څوک هډو حاصلولے نشي- د ټولو نه د لوئي عِلم والا ذات د الله پاک دے، کوم له چې چا عِلم نه دے ورکړے، هغۀ هم پخپله عالِم دے- بيا د هغۀ پۀ ورکړه باندې د هغۀ پۀ مخلوق کښې د حضرت آدم عَلَيۡهِ السَّلَام نه واخله تر قيامته پورې د ټولو نه لوئي عالِمِ دِين رَحمةٌ لِّلعَالَمِين صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے- هر يو نبي عالِمِ دين وي او پۀ خپل اُمَّت کښې هم هغۀ د ټولو نه لوئي عالِم وي- د دې وخت نبي زما آقا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ټولو نه لوئي عالِم دے- داسې د عِلمِ دِين فراختيا او ژور والے ډير زيات دے، څکه چې څوک څومره ډير عِلمِ دِين حاصلولے شي هغۀ له حاصلول پکار دي- (ملفوظات امير اہل سنت ، 271/5)

**سوال:** تعليم حاصلول پۀ نارينه او پۀ زنانه باندې فرض دے- دا راهنمائي وکړئ چې څومره عِلم حاصلول ضروري دے؟

**جواب:** طَلَبُ الْعِلْمِ فَرِيْضَةٌ عَلٰى كُلِّ مُسْلِمٍ يعنې پۀ هر مسلمان باندې د عِلم طلب کول فرض دي- " [1]

---

[1] ... ابن ماجہ، 146/1، حديث:224

پهٔ لفظ "تعليم" باندې انسان لږ شان وړاندې وروستو شي او د تعليم نه مُراد عموماً د سکول وغيره تعليم اخستے شي حالانکې د دې حديث نه د سکول يا د کالج تعليم مُراد نه دے- [1] بعضې خلق د داسې قِسمه حديثونو مبارکو پهٔ ذريعه باندې خپل سکولونه، کالجونه او دُنيائي تعليمي ادارې چلوي، توبه! اَستَغفِرُ الله- د حديثونو مبارکو نه د خپلې اندازې پهٔ ذريعه اِستِدلال کول حرام او دوزخ ته بوتلونکے کار دے، [2] صرف مُحَدِّثِين علمائے کرام مونږ ته د دې معنىٰ وئيلے شي- بهر حال! اعلىٰ حضرت، امامِ اهلِسُنَّت امام احمد رضا خان رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه پهٔ "فتاوىٰ رضويه" کښې د دې حديثِ پاک شرح پهٔ تفصيل سره فرمائيلې ده د کومې خُلاصه چې دا ده چې " په هر يو مسلمان باندې فرض علوم پيژندل ضروري دي لکه څوک بالغ شو نو پهٔ هغهٔ باندې نـمونځ فرض شو، اوس پهٔ هغوئي باندې د نـمونځ د ضروري مسئلو نه ځان خبرول هم فرض شول، دغه شان چې روژه راغله نو پهٔ چا باندې چې روژه فرض ده پهٔ هغوئي باندې د روژې د ضروري مسئلو نه ځان خبرول هم فرض دي، دغه شان پهٔ کاروبار کوونکي يعنې Businessman باندې د کاروبار، پهٔ گاهک باندې د اخستو، پهٔ نوکر باندې د نوکرۍ، پهٔ چا باندې چې زکوٰة فرض

1 ... فتاوىٰ رضويه، 623/23

2 ... فيض القدير، 172/1، تحت الحديث: 133 ماخوذاً

دے پهٔ هغوئي باندې د زکوٰة، هم دغه شان څوک چې واده کول غواړي پهٔ هغوئي باندې د نِکاح او د طلاق د ضروري مسئلو نه ځان خبرول فرض دي-" (1) (ملفوظات امیر اہل سنت، 4/373– 374)

**سوال:** څومره عِلمِ دِین زده کول پکار دے؟

**جواب:** د ټولو نه مخکښې خو د خپلو عقیدو نه ځان خبرول ضروري دي، د دې نه علاوه د ګناهونو معلومات حاصلول فرض دي، د باطني بیمارو مثلاً تکبر، حسد رِیا وغیره کومو ته چې "مُهلِکات" وئیلے شي د دې معلومات هم فرض دي- د دې د پاره " باطنی بیماریوں کی معلومات" او "نجات دلانے والے اعمال کی معلومات" دا دواړه کتابونه د مکتبة الـمدینه نه حاصلول او لوستل ډېر ضروري دي- (ملفوظات امیر اہل سنت ، 7/119)

**سوال:** د وخت باوجود د عِلمِ دِین نهٔ حاصلوونکي پهٔ باره کښې تاسو څهٔ فرمایئ؟

**جواب:** د وخت باوجود عِلمِ دِین نهٔ حاصلول ډېره زیاته د محرومۍ خبره ده، د قیامت پهٔ ورځ به داسې ګس د ټولو نه زیات ارمان کوي، د مدینے سرکار صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد وفرمائیلو: د ټولو نه زیات ارمان به د

(1) ... فتاویٰ رضویه، 23/623- 626 مفهوماً

قیامت پهٔ ورځ هُغه خوک کوي چا ته چې پهٔ دُنیا کښې د عِلم حاصلولو موقع پهٔ لاس ورغله خو هغهٔ حاصل نه کړو او هُغه ګس ته به وي چا چې عِلم حاصل کړو او نورو خو د هغهٔ نه واوریدو او فائده ترینه واخستله خو هغهٔ ترینه وانخستله (یعنې پهٔ هُغه عِلم باندې یــې عمل اونه کړو)- (تاریخ ابن عساکر، 137/51) اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د دعوتِ اِسلامي پهٔ دِیني ماحول کښې د عِلمِ دِین حاصلولو بے شمیره موقعې میلاویږي او وخت پهٔ وخت د مختلفو کورسونو سلسله هم وي، ځکه دې ټول اِسلامي ورونړه پهٔ دغه کورسونو کښې داخله واخلي، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم! د عِلمِ دِین د زده کولو او پهٔ دې باندې به د عمل کولو د جذبې موندلو ذِهن نصیب شي- (ملفوظات امیر اہل سنت ، 183/1، 184)

**سوال**: زمونږه پهٔ معاشره کښې دِیني تعلیم حاصلوونکو طالبِ علمانو ته نا اُمیدي او د دنیائي تعلیم حاصلوونکو ډاډګیرنه ورکولے شي، دا سوچ به څنګه بدلولے شي؟ (1)

**جواب**: د دعوتِ اِسلامي د دِیني ماحول سره تړون لرونکي خلق یا پخپله عالمان، مفتیان او قاریان مور او پلار د خپل اولاد پهٔ دِیني تعلیم باندې

---

(1)... دا سوال د شعبه ملفوظاتِ امیرِاهلِسنّت له خوا جوړ کړے شوے دے او جواب هم امیرِ اهلِسنّت دامت بَرَکاتُہمُ العالیه عطا کړے دے-

یواځې ډاډګیرنه نهٔ کوي بلکې دې د پاره کوششونه هم کوي خو د معاشرې د عامو خلقو بچو ته د تعلیم ورکولو ذِهن نه وي بلکې که ماشوم د دِیني ماحول میلاویدو پهٔ وجه د قرآنِ پاک حفظ یا دَرسِ نظامي کول غواړي نو هغهٔ ته داسې قِسمه پیغورونه ورکولے شي چې آیا د مولانا صاحب جوړیدو سره به پهٔ جومات کښې وظیفې خورې؟ چې عالِمِ دِین جوړ شې نو څهٔ به خورې؟ B.A کوي یا ډاکټر یا اِنجینئر جوړ شه چې ښه روزګار درته میلاؤ شي- دا خبره صرف تر د پیغورونو حده پورې نه وي بلکې باقاعده د دِیني تعلیم نه د منع کولو د پاره مختلفې لارې هم اختیارولے شي مثلاً که زوي یې پهٔ درسِ نظامي کښې داخله واخلي نو بیا د هغهٔ نه د کتې کولو غوښتنه کولے شي حالانکې کور د معاشي لاس تنګئ سره هم مخ نه وي خو بل خوا د دُنیائي تعلیم ورکولو د پاره وړومبے پهٔ سکول کښې لس کاله او بیا پهٔ کالج او یونیورسټئ کښې ډیر کلونه د جیب نه پیسې ورکوي او تعلیم پرې کوي- پهٔ دې تعلیمي موده کښې مور پلار هر قِسمه سهولت ورکوي او اولاد د تعلیم د پاره بالکل فارغ ساتي- که چرې خپل ذاتي کاروبار یې وي نو پهٔ هغې کښې هم مداخلت کوي او منع کوي یې د پاره د دې چې پهٔ تعلیم کښې یې څهٔ خنډ [یعنې رکاوټ] پیدا نشي- پهٔ اوسنئ زمانه کښې هم د دنیائي تعلیم حاصلولو ډیره ډاډګیرنه کولے شي- د مختلفو اِدارو له خوا دغه طالبِ

علمانو ته سکالر شپې او نوکريانې ورکولے شي- هم دغه وجه ده چې پهٔ مدرسو کښې د سبق ويونڪو طالب شميره پهٔ سکول او پهٔ کالج کښې د تعليم حاصلوونڪو پهٔ مقابله کښې يو فيصد هم نه ده- کوځه پهٔ کوځه سکولونه جوړ شوي دي خو مدرسې پهٔ شمار يو څو ميلاؤيږي- مور پلار خپل اولاد ته د دنيائي تعليم رغبت ورکولو د پاره هُم د شروع نه دا ذِهن ورکوي:

پڑھوگے لکھوگے بنوگے نَواب

کھیلوگے کُودوگے ہوگے خراب

نو د داسې مور پلار پهٔ خدمت کښې عرض دے چې دُنيا هر څهٔ نه ده، اَصل يې اخرت دے او پهٔ اخرت کښې به ډاکټريټ يا انجنيئرنګ کړے زوي پهٔ کار نه راځي بلکې حافِظ يا عالِمِ دِين زوي به شفاعت کوي لکه څنګه چې د مدينے د سرکار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: د قيامت پهٔ ورځ باندې به عالِم او عابِد (يعني عبادت ګزار) راپاڅولے شي، عابِد ته به وه وئيلے شي چې جنَّت ته داخل شه او عالِم ته به وه وئيلے شي چې تر څو پورې د خلقو شفاعت اونه کړې، ايسار شه-

( شعب الايمان، 268/2، حديث:1717)

دا وئيل چې مولانا جوړ شې نو څهٔ به خورې؟ دا صرف شيطاني وسوسه ده، رزق الله پاک پهٔ خپل ذِمهٔ کرم باندې اخستے دے او دِيني تعليم حاصلوونکي د دنيائي تعليم حاصلوونکو پهٔ مقابله کښې ډير د سکون ژوند تيروي، هُم دا وجه ده چې دا خبرونه خو اوريدے کيږي چې فلانکي ډاکټر يا افسر خودکُشي وکړه خو دا خبر مو اوسه پورې نه دے اوريدلے چې فلانکي عالِمِ دِين د پريشانو نه تنګ شو او مرګ ته ورغاړه وتلو- زما د کلونو راسې چيلنج دے داسې مثال تر ننه پورې چا نه دے راوړے چې عالِمِ دِين خودکشي کړې وي- د دې بنيادي وجه دا ده چې علمائے کرامو ته د الله پاک مَعرِفَت [يعنې پيژندګلو] حاصله وي- هغوئي د الله پاک نه ويريدونکي وي او د هغوئي دا صِفَت پخپله قرآنِ پاک بيان کړے دے، لکه څنګه چې پهٔ 22 سيپاره، د سورهٔ فاطِر پهٔ آيت نمبر 28 کښې د الله پاک اِرشاد دے: ﴿اِنَّمَا يَخْشَى اللّٰهَ مِنْ عِبَادِهِ الْعُلَمٰٓؤُا﴾ " [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: اللّٰه نه د هغهٔ پهٔ بندګانو کښې هُم هغهٔ ويريږي کوم چې عالِـمان دي-"

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** تاسو وکتل چې د علمائے کرامو څومره فضائل دي چې هغوئي ته به د قيامت پهٔ ورځ د شَفاعت منصب ورکولے شي ځکه خپل اخرت ته پام وکړئ او د خپلو ټولو بچو د عالِمِ دِين او حافِظِ قرآن جوړولو کوشش وکړئ او که چرې داسې ممکن نه وي نو کم از

کم خپل یو ماشوم خو عالِمِ دِین جوړ کړئ- که الله پاک وغوښتل نو د کور بلکې د خاندان والؤ د بخښنې ذریعه جوړېدے شي- (ملفوظات امیر اہل سنت، 1 /200–202)

**سوال:** پهٔ کم وخت کښې د ډېر عِلم حاصلولو څهٔ طریقه ده؟

**جواب:** د چا چې ذِهن ښه وي نو پهٔ کم وخت کښې ډېر عِلم حاصلوي ځکه چې ښه ذِهن والا چې څهٔ لولي نو هغهٔ ته یادیږي د کوم له وجهې چې پرې د هغهٔ کم وخت لګي او دچا چې ذهن ښه نه وي دهغه ډېر وخت لګي- د یادولو په کعبةُ الله شریف ته د مخ کولو سره زر یادیږي- شیخُ الاِسلام علّامه بُرهانُ الدِّین ابراهیم زرنوجي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دوو طالبِ علمانو واقعه لیکلې ده د کومې خلاصه چې دا ده چې " د یو ځائے نه دوو طالبِ عِلمانو د عِلمِ دِین حاصلولو د پاره سفر وکړو او کله چې یې عِلم حاصل کړو او واپس راغلل نو پهٔ هغوئي کښې یو ډېر لوئې عالِم جوړ شوےوو خو بَل داسې نه وو- چې کله علمائے کرامو معلومات اوکړو چې دا فرق ولې دے؟ نو دا خبره مخې ته راغله چې څوک ښه عالِم جوړ شوے دے هغهٔ به چې کله هم سبق یادولو یا عِلمِ دِین به یې حاصلولو نو د دې خبرې خیال به یې ساتلو چې د هغوئي مخ د قبلې اړخ ته وي- نو علمائے کرامو فیصله وکړه چې دا د کعبې طرف ته د مخ کولو او کښیناستو برکت

دے-“ ( جمع الجوامع، 283/4، حديث:11876) ځکه چې خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د کعبې طرف ته مخ کولو او کښيناستلو-

( احياء العلوم، 449/2) (ملفوظات امير اہل سنت، 23/10)

**سوال:** د عِلمِ دِين حاصلولو د پاره کوم قِسم ماشوم پهٔ مدرسه کښې داخلول پکار دي؟ (1)

**جواب:** چې د دِين د پاره اِنتخاب کول وي نو بيا د دِين د پاره د ټولو نه د ښه ذهن والا زوي اِنتخاب کول پکار دي-کيږي داسي چې کوم بچے د مور پلار پهٔ نزد د ټولو نه وران کارے وي هغهٔ د دِين حاصلولو د پاره ليږي، هغهٔ هم بعضې وخت د خپل ځان د خلاصولو د پاره چې مور به يې د کور کار کوي که دا به سمبالوي، پلار به يې خپل کار روزګار کوي که روزانه به د دهٔ جګړې ختموي- ځکه دا د مولانا صاحب پهٔ کهاته کښې واچوه، بيا مولانا صاحب پوهه شه او د هغهٔ کار-

(ملفوظات امير اہل سنت ، 7 /63)

**سوال:** ولې چې پهٔ عِلم باندې پهٔ عمل نهٔ کولو ډير وعيدونه دي،نو که يو کَس عِلمِ دِين هډو حاصل نکړي او داسې وه وائي چې: ” که عِلم

---

1... دا سوال د شعبه ملفوظاتِ اميرِاهلِسنّت له خوا جوړ کړے شوے دے او جواب هم اميرِ اهلِسنّت دامت بَرَكَاتُهمُ العاليه عطا کړے دے-

حاصل کړم نو عمل به پرې هم کول غواړي!" دې باره کښې څۀ ارشاد کړئ۔

**جواب:** داسې ګڼل د شیطان ډیر غټ ګُزار دے، داسې خو به ټول خلق جاهلان پاتې شي او د دې سوچ کولو سره به څوک هم عِلمِ دِین نۀ حاصلوي چې " که چرې هغۀ پۀ عِلم باندې عمل اونه کړو نو هغۀ به ګیر شي!" بهر حال عِلم هم حاصل کړئ او که الله پاک توفیق درکړي نو پۀ دې باندې د عمل کولو هم پوره کوشش وکړئ۔ (ملفوظات امیر اہل سنت ، 236/7)

**سوال:** که څوک پۀ خپل عِلم باندې عمل نه کوي نو آیا هغۀ ته عِلم حاصلول پکار دي؟

**جواب:** هغه اَعمال کوم چې د فرضو او واجبو نه وي پۀ هغې باندې عمل ضروري دے، که عالِم جوړ شي او که نۀ، پۀ هغې باندې پۀ عمل نه کولو به انسان ګنهګاریږي، البته! اعمالِ مُستَحَبَّه یعنې هغه اَعمال د کومو پۀ کولو باندې چې ثواب وي، خو پۀ نۀ کولو باندې یې ګناه نه وي پۀ هغې باندې پۀ عمل نه کولو به انسان نۀ ګنهګاریږي۔ انسان له پکار دي چې عِلم حاصل کړي چې دا د ثواب کار دے او چې څومره کیدے شي نو عمل دې پرې وکړي۔ د ثواب کار هر چا له کول پکار دي که عالِم وي

او که عالِم نۀ وي- د عِلمِ دِین نه د لرې کولو د پاره شیطان وسوسه اچوي، خلق هم مبلغینو له پیغورونه ورکوي او کور والا طالبِ عِلم له پیغورونه ورکوي چې " ورومبے خو پرې پخپله عمل وکړه بیا خلقو له د نیکۍ دعوت ورکوه" کور والؤ له داسې نه دي کول پکار بلکې که څوک د نیکۍ کار کوي نو هغۀ له ډاډګیرنه ورکول پکار ده- که هغۀ نن پۀ عمل کښې کمزورے دے نو سبا به مضبوط شي، خو که د نیکۍ دعوت یې پریښودو نو د عمل نه به نور هم لرې شي- (ملفوظات امیر اہل سنت، 9 /265-266)

**سوال:** نن سبا خلق د سکولونو، کالجونو او یونیورسټیانو طرف ته ځي خو د دِیني مدرسو طرف ته د خلقو رغبت کم دے، نو داسې ولې ده؟

**جواب:** د دِیني مدرسو طرف ته د خلقو رغبت کم خو څۀ کړې چې د نشت برابر دے خو سکولونه، کالجونه او یونیورسټیانې ډکې پرتې دي- خلق د خپل جیب نه لکونه روپۍ لګوي او تعلیم حاصلوي او خوراک هم د خپل جیب نه کوي خو بیا یې هم د دُنیائي تعلیم حاصلولو طرف ته رغبت زیات دے خو پۀ دِیني مدرسو کښې مفت تعلیم ورکولے کیږي تر دې پورې چې خوراک او اوسیدل هم مفت ورکولے شي بیا هم د خلقو رغبت د دِیني مدرسو طرف ته کم دے- دا حالات مو پۀ نظر کښې وساتل او مونږه دارُ الـمدینه جوړ کړل پۀ کومو کښې چې د دِیني

تعليم سره سره دُنيائي تعليم هم ورکولے کيږي چې خلق په څۀ طريقه دِين ته رانزدې شي- د دارُ الـمدينه سکول سِستم ټولې معاملې په شريعت کښې دننه او د علمائے کرامو په نګرانئ کښې کيږي دي د پاره چې په دې کښې څۀ غير شرعي خبره شامله نشي د کومې له وجهې چې په تعليم کښې خرابي پيدا شي او د ماشومانو په تعليم او تربيت، ذهن او اَخلاقو باندې غلط اثر اونه شي- ټولو له پکار دي چې هغوئي د خپلو بچو اخرت ته هم نظر وکړي چې دُنيا که هر څنګه ده تيره به شي- زۀ دا نۀ وايم چې نَعُوذُ بِاللّٰه تاسو لوړې تيرې کړئ، د لوږې نه ځان مړ کړئ او سوال وکړئ- اَلْحَمْدُ لِلّٰه! مونږه خِيرونه نۀ غواړو، زمونږه بچي هم خوراک څښاک او اغوستل کوي- د دعوتِ اِسلامي چې څومره هم مبلغين دي په هغوئي کښې څوک هم د لوږې نه نۀ مړه کيږي او څوک هم پکښې سوال نه کوي، ټول په خپله خپله طريقه ځانله رزق ګټي- ټول د دنيائي تعليم نه خالي نه دي بلکې زمونږ سره يو تر بله زيات دُنيائي تعليم يافته هم دي-

## د علمائے کرامو سره زمونږه ډير ضرورتونه تړلي شوي دي

په دُنيائي تعليم باندې ټول خلق زور راوړي خو مونږه دِيني تعليم له ډيره توجه ورکوو چې خلق دې طرف ته هم راشي او اُمَّت ته علمائے کرام ورکړي- که علمائے کرام نه وي نو مونږ به د ډيرې پريشانئ سره مخ شو- کوم خلق چې د دِيني تعليم مخالفت کوي او دا وائي چې ” که مولانا

جوړ شي نو پهٔ جومات کښې به وظيفې خوري“ نو زهٔ به هغوئي ته دا وه وايم چې تاسو غور وکړئ چې که چرې تاسو پينځه وخته نـمونځ نهٔ کوئ نو الله پاک دې تاسو له توفيق درکړي چې تاسو پينځه وخته نـمونځ وکړئ خو د جُمعې نـمونځ خو به کوئ! نو وه وايئ چې که چرې مولانا صاحب نه وي نو آيا څوک اَفسَر به پهٔ جومات کښې تاسو له د جُمعې د نـمونځ جَمعه درکړي؟ يا به درله يو وزير د جُمعې د نـمونځ جَمعه درکړي؟ يا د يو مِل يا کارخانې مالِک به د جُمعې د نـمونځ جَمعه درکړي؟ د جُمعې د نـمونځ جَمعه خو هم مولانا صاحب ورکوي- ياد ساتئ چې مولانا صاحب ستاسو ضرورت دے، تاسو د هغوئي عزت کوئ- کهٔ پوهيږئ پرې نهٔ نو ازميښت وکړئ، که مړ شئ نو څوک مِستړ، څوک اَفسر، څوک سرمايه دار، څوک وزير يا څوک مِنِسټر به ستاسو جنازه نهٔ کوي، هم دغه مولانا صاحب به دې جنازه کوي، او هم دغه مولانا صاحب به دې قبر ته کوزوي، هم دغه مولانا صاحب به سورتونه لولي او تاسو ته به يـې ثواب دربخښي- تاسو خو به د اختر نـمونځ کوئ! نو وه وايئ چې د اختر د نـمونځ جَمعه څوک درکوي؟ يقيناً چې مولانا صاحب او عالِم صاحب به جَمعه درکوي نو معلومه شوه چې مولانا صاحب او عالِم صاحب زمونږه ضرورت دے، ځکه پهٔ معاشره کښې دوئي هم پکار دي- ټول جوماتونه خو هم دوئي سمبال کړي دي ګنې د نـمونځونو د پاره به امامان د کوم

ځائے نه راولئ؟ د جُمعې د جَمعې د پاره به خطيب صاحب د کوم ځائے نه راولئ؟ که يو کَس پهٔ دُنيائي لحاظ سره ښه تقرير کوونکے وي نو بيا هم خطبه نشي ورکولے ځکه چې د جُمعې د نـمونځ خطبه به هم مولانا صاحب ورکوي- (ملفوظات امير اہل سنت ، 10/284-286)

**سوال:** بعضې خلق داسې وائي چې " دُنيائي تعليم حاصل کړې نو مزې به کوې، که عِلمِ دِين حاصل کړې نو مولانا به جوړ شې او د لوږې نه به مړ شې-" دا ارشاد وفرمايئ چې داسې وئيل څنګه دي؟ د داسې وئيلو والا پهٔ کوم انداز کښې اِصلاح وکړے شي؟

**جواب:** د دعوتِ اِسلامي د مکـتبة الـمدينه کتاب "کُفريه کلمات کے بارے میں سُوال جواب" (1) کښې دي: "سوال: " چې دُنيائي تعليم حاصل کړې نو مزې به کوې، که عِلمِ دِين حاصل کړې نو مولانا به جوړ شې او د لوږې نه به مړ شې-" دا وئيل څنګه دي؟ **جواب:** پهٔ دې جُمله کښې دعلم

---

(1)... **"کُفريه کلمات کے بارے میں سوال وجواب"** دا د امير اهلِسنّت دامت بَرَکَاتُہمُ العالیہ ډير ښکلے کتاب دے د کوم چې 708 صفحات دي- پهٔ دې کتاب کښې 398 سوالونه او جوابونه او د 242 کفريه کلماتو مثالونه شامل دي، د دې نه علاوه د اِيمان د حفاظت پهٔ باره کښې ډير آيتونه، روايتونه او حکايات درج دي- هر يو مسلمان نارينه او زنانه ته د خپل اِيمان د حفاظت د فِکر حاصلولو د پاره دا کتاب ضرور لوستل پکار دي- (شعبہ ہفتہ وار رسالہ مطالعہ)

دين د سپکاوي اړخ ښکاره دےدي وجي نه دا کُفر دے- قائل (يعني څوک چې داسې وائي، پهٔ هغهٔ) باندې توبه او د ايمان تجديد لازمي دے (يعني د خپلې وينا نه دې توبه هم اوباسي او د نوي سر نه دې ايمان هم راوړي) او که د عِلم او عالِمانو سپکاوے يې مقصد وو نو قَطعِي کُفر دے، ويونکے کافِر او مُرتَد شو او د هغهٔ نِکاح هم ماته شوه او مخکښني نيک اَعمال يې هم ضائع شول-" ( کفريه کلمات کے بارے ميں سوال جواب، ص357)

بهر حال! د عِلمِ دِين، د دِيني کتاب او شريعت سپکاوے کُفر دے- (مجمع الانهر شرح ملتقى الابحر، 509/2) که د عالِمِ دِين سپکاوے د عِلمِ دِين پهٔ وجه باندې کوي نو بيا هم کُفر دے- (فتاویٰ رضويه، 129/21- مجمع الانهر شرح ملتقى الابحر، 509/2) الله کريم دې زمونږ د ټولو اِيمان سلامت وساتي- پاتې شوه دا خبره چې " څوک چې عِلمِ دِين حاصلوي هغهٔ د لوږې نه مرِ کيږي" نو ياد ساتئ چې د لوږې نه دُنيائي تعليمِ يافته خلق مرِه کيږي- زما ډير زور چيلنج دے د کوم چې چا تراوسه پورې جواب نه دے راکړے چې "څوک دې داسې يو مثال راکړي چې يو عالِم او د اِسلام مفتي چرې خودکُشي کړې وي-" حالانکې پهٔ دُنيا کښې روزانه شايد چې پهٔ يو منټ کښې درې خلق خودکشي کوي، د دې باوجود هم تر ننه پورې د يو عالِم د خودکشۍ کولو يو مثال هم مخې ته رانغلو- دا خبره ياد ساتئ چې دلته د عالِم نه مُراد د عِلم عالِم دے، هرې کيرې والا کَس عالِم

نه وي- د بے روزګارۍ پهٔ وجه خودکشي کوونکي عموماً ماډرن خلق وي د کومې نه چې دا معلومیږي چې عالِمِ دِین خوشحاله وي او هغهٔ دومره پهٔ ټینشن کښې نه وي څومره چې عام انسان وي- نور دا چې د عالِمِ دِین پهٔ معاشره کښې عزت هم وي چې کله راشي نو خلق ورله لاسونه ښکلوي، پهٔ ښه او د عزت والا ځائے کښې یې کښینوي- تر دې پورې چې د جومات اِمام څوک چې عالِم نه وي د هغوئي هم عزت کولے شي- خو د دې پهٔ مقابله کښې د عام انسان دومره عزت نه وي- څکه دا تصور غلط دے چې " دنیائي تعلیم حاصل کړې نو مزې به کوې-" د عالِمِ دِین کیدلو دا مطلب نه وي چې هغهٔ دنیائي تعلیم نه وي کړے، انګلش ویوونکي علمائے کرام هم وي- زمونږه پهٔ دعوتِ اِسلامي کښې هم یو تر بله علمائے کرام دي څوک چې پهٔ انګلش باندې پوهیږي هم او ښه ډیر دنیائي معلومات هم لري- (ملفوظات امیر اہل سنت ، 10 /18–19)

**سوال:** عِلمِ دِین پهٔ کومو طریقو سره حاصلیدے شي؟ [1]

**جواب:** مَدَني چینل کتل، د عاشقانِ رسول د دِیني تحریک دعوتِ اِسلامي پهٔ هفته وارو د سُنَّتو اِجتماعاتو کښې شرکت کول او د مکتبة المدینه

---

1... دا سوال د شعبه ملفوظاتِ امیرِاهلِسنّت له خوا جوړ کړے شوے دے او جواب هم امیرِ اهلِسنّت دامت بَرَکاتُہمُ العالیه عطا کړے دے-

کتابونه لوستل، د عِلمِ دِین د حاصلولو بهترینې ذریعې دي- داسې د عاشقانِ رسول علمائے کرامو نه د شرعي مسئلو پوښتنه کول هم د عِلمِ دِین حاصلولو بهترینه ذریعه ده- کیدے شي چې تاسو چرې د یو عالِم صاحب خوا له د شرعي مسئلې د پوښتنې د پاره لاړ شئ او هغهٔ پهٔ څهٔ سوچ کښې ډوب وي نو داسې هغهٔ تاسو رټلے هم شي خو تاسو ته هیڅکله هم د هغهٔ نه بدګمانه کیدل نه دي پکار- ګاهک که چرې د سوداګر سره کله سخته خبره هم وکړي نو سوداګر پهٔ هغهٔ د بدګمانه کیدلو پهٔ ځائے پهٔ څهٔ طریقه پهٔ هغهٔ باندې خپله سودا خرڅوي، داسې تاسو ته هم د حکمت نه کار اخستل پکار دي- بعضې وخت د ستړي والي له وجهې یا پهٔ څهٔ پریشانۍ کښې د اخته کیدو پهٔ وخت د مسئلې پهٔ پوښتنه کولو باندې عالِم صاحب تاسو رټلے شي او دا هم وئیلے شي چې وروستو د پوښتنې د پاره راشه نو تاسو بیا وروستو د هغوئي خوا له خامخا ځئ، داسې نهٔ چې زهٔ بیا د هغهٔ خوا له ولې لاړ شم بلکې که هغوئي تاسو 100 کرته هم راوبلي نو تاسو ته 100 کرته تلل پکار دي- تاسو وایئ چې مونږ د عالِم صاحب خوا له لاړ شو هغهٔ به پاځي او مونږ ته به راغاړه وځي، پهٔ مینه باندې به مو پهٔ خپل ځائے باندې کښینوي او بیا به راباندې چائے هم څښې نو دا هر څهٔ نشي کیدے- که تاسو د علمائے کرامو ادب کوئ نو بیا تاسو ته د هغوئي نه څهٔ حاصلیدے شي او که ستاسو دماغ د Mount Everest پهٔ

غونډېَ باندې وي چې هغوئي زهٔ ولې ورتلم؟ د هغوئي موډ ولې خراب وو؟ پريږده مړه! مُليان هم داسې وي وغيره وغيره بيا به تاسو د هغوئي نه هيڅ هم حاصل نکړے شئ- (ملفوظات امير اہل سنت ، 5 /131-132)

**سوال:** د خلقو د تنګولو د ويرې نه مذهبي حُليه نهٔ اختيارول يا د عِلمِ دِين حاصلولو نه بچ کيدل څنګه دي؟ (1)

**جواب:** پهٔ معاشره کښې داسې خلق هم شته څوک چې مذهبي حُليې والاخلق تنګوي خو ياد ساتئ! تنګولو والو خو انبيائے کرام عليهِمُ السَّلام هم تنګ کړي دي- زما چې د کله نه ګيره راغلې ده، اَلْحَمْدُ لِلّٰه! نهٔ مې چرې کټ کړې ده او نهٔ مې د يو موټې نه کمه کړې ده، تنګولو والا تنګ کړم خو زياتو خلقو راله عزت راکړو- څوک چې ګيره خريوي آيا هغوئي څوک نهٔ تنګوي! څوک چې عالمان نه وي آيا هغوئي څوک نهٔ تنګوي! بلکې په عام عوامو باندې د ظلم واقعې خوډيرې رامخې ته کيږي، غريبانان وژلے کيږي او وجود يې پهٔ ځنګلونو کښې غورځولے کيږي خو د علمائے کرامو پهٔ باره کښې داسې قِسمه واقعې به تاسو کمې اورئ- بهر حال! ظلم

---

(1)... دا سوال د شعبه ملفوظاتِ اميرِاهِلسنّت له خوا جوړ کړے شوے دے او جواب هم اميرِ اهِلسنّت دامت بَرَکاتُہمُ العاليه عطا کړے دے-

خو د چا سره هم نه دے پکار- د وينا مقصد مې دا دے چې د عالِم عزت د عوامو پهٔ مقابله کښې زيات وي- (ملفوظات امير اہل سنت ، 3/205–206)

**سوال:** آيا د اولاد د شرعي راهنمايۍ د پاره د مور پلار تربيت يافته کيدل ضروري دي؟

**جواب:** آؤ جي! چې مور پلار له ورځې نو بيا به د اولاد راهنمائي کولے شي خو دلته خو هر څهٔ بدل دي، مور پلار هم خبر نه وي- که پهٔ څهٔ طريقه باندې اولاد ته ښه صحبت حاصل شي لکه د علمائے کرامو پهٔ بارګاه کښې حاضري يا د دعوتِ اِسلامي دِيني ماحول ميلاؤ شي او جذبه حاصله شي نو هغهٔ ښځپله کوشش کوي او ډيرې مسئلې او سُنَّت وغيره زده کوي- بعضې وخت داسې هم کيږي چې اولاد نهٔ قابو کيږي او نهٔ د مسئلو نه خبر وي خو مور پلار ته د دِيني ماحول وغيره پهٔ برکت باندې ډير مسئلې معلومې وي- داسې دواړه صورتونه پهٔ معاشره کښې موندلے کيږي- اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د دعوتِ اِسلامي پهٔ دِيني ماحول کښې يوه شميره داسې ده کومه چې د زدکړې پهٔ حالت کښې مور پلار جوړيږي ځکه چې دلته زياته شميره د ځلمو ده، البته لکه څنګه چې د دې حق دے د فرض علومو نه د خبرو خلقو شميره به کمه وي- الله پاک دې مونږ ټولو ته د عِلمِ دِين جذبه راعطا کړي- فرض علوم حاصلول لکه د نمونځ او روژې

وغیره احکام زده کول ډېر لوئي عبادت دے، [1] ځکه ټولو له فرض علوم زده کول پکار دي- پۀ دعوتِ اِسلامي کښې اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د زدکړې يو ماحول جوړ شوے دے، د اِسلامي خوئيندو شريعت کورس او نور کورسونه وي- [2] دغه شان د اِسلامي وروڼو هم ډېر کورسونه دي پۀ کومو کښې چې يو ”فيضانِ نماز کورس“ هم دے کوم چې صرف د 7 ورځو دے، که کيدے شي نو د دې کورس د کولو ترکيب جوړ کړئ، پۀ اووه ورځو کښې به هر څۀ نۀ زدکيږي ، خو څۀ نا څۀ به ضرور زده شي او د نورې زدکړې جذبه به مو نصيب شي پۀ کومې چې مونږه لوستل وغيره کولے شو او وړاندې تللے شو- که قرآنِ کريم لوستل نه درځي يا مو تلفظ صحيح نه دے نو مدرسةُ الـمدينه بالغان ته راشئ، که پۀ کور کښې زده کول غواړئ نو دې د پاره آن لائن (Online) نِظام هم موجود دے د کوم د لاندې چې ډېر کورسونه کولے شي- ځکښې دور وو چې خلق به پۀ زرګونو ميله لرې پۀ

---

[1]... د خوږ مصطفےٰ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: افضل عبادت د دين مسئلې زده کول دي- (جامع صغير، ص 81، حديث:1280)

[2]... د اِسلامي خوئيندو د مختلفو مجالسو لاندې پۀ ګڼ شمير کورسونو کښې يو څو دا دي: ❀جنّت کا راستہ ❀ دينی کام کورس ❀ تجويدُ القرآن کورس ❀ اِصلاحِ اَعمال کورس ❀ فيضانِ زکوٰۃ کورس ❀ مَدَنی قاعده کورس ❀ نَماز کورس ❀ فيضانِ رفيقُ الحَرَمين ❀ اِسلامی زندگی کورس ❀ فيضانِ عُمره کورس❀ فيضانِ تِلاوت کورس ❀ فيضانِ رَمَضان کورس ❀ اِسپيشل اِسلامی بہنيں کورس-

اوښانو او اَسونو باندې سفر کولو او د خپله جيبه به يې خوراک کولو او د عِلم حاصلولو د پاره به تلل، کله به ډاکوانو هم لوټ کول خو اوس خو متل هم بدل شوے دے، يعنې مخکښې به "تږے" د کوهي خوا له تللو، اوس "کوهے" د تږي کور ته راځي او وائي چې " زما نه اوبهٔ وڅښه او تنده ماته کړه" خو د خلقو انداز دا دے چې مونږه يې نهٔ څښو، مونږه به هم تږي مره کيږو- داسې مهٔ کوئ، تول عاشقانِ رسول راوړاندې شئ او عِلم حاصل کړئ- الله دې وکړې چې زما خبره ستاسو پهٔ زړهٔ کښې کور وکړي- (ملفوظات امير اہل سنت ، 4/375-376)

**سوال**: عِلمِ دِين د چا نه حاصل کړو؟ [1]

**جواب**: د عِلمِ دِين خزانه صرف د عاشقانِ رسول پهٔ ذريعه حاصلول پکار ده- تاسو د عاشقانِ رسول علمائے کرامو څوک چې پاخه سُنيان او د اعلیٰ حضرت، امامِ اهلِسُنَّت امام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه منونکي وي، تاسو د هغوئي لمن ونيسئ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيم! تاسو به منزل ته ورسئ-

(ملفوظات امير اہل سنت ،5/ 131-132)

---

[1]... دا سوال د شعبه ملفوظاتِ اميرِاهلِسنّت له خوا جوړ کړے شوے دے او جواب هم اميرِ اهلِسنّت دامت بَرَکَاتُہمُ العالیه عطا کړے دے-

**سوال:** آيا رزق صرف دُنيائي تعليم او ډګريانو (Degrees) حاصلوونکو ته ميلاؤيږي؟ [1]

**جواب:** تاسو ته د تجربې خبره کووم چې غټ غټ سرمايه دار او مالداران سَنَد لرونکي (Qualified) يا تعليمِ يافته (Educated) نه وي، پهٔ دُنيائي تعليم حاصلولو باندې رزق ميلاويږي نو داسې نهٔ ده، رَزَّاق الله پاک دے، هغهٔ هر چا له رزق ورکوونکے دے، هغهٔ يې ورے ضرور راپاخوي خو ورے يې نهٔ اوده کوي، مرغۍ (Birds) هم سحر وږې ووځي او مابنام پهٔ مړه ګيډه واپس راځي، هم دغسې چينجي ته (يعنې ذَرّه- Particle)، هاتي ته مَن او وهيل (Whale) مهي [يعنې کب] ته تِن خوراک عطا کوي- [2] تاسو به د ډيرو پهٔ دُنيائي توګه د تعليم يافته خلقو پهٔ باره کښې اوريدلي وي چې هغوئي د بے روزګارئ پهٔ وجه خودکشي وکړه خو د يو عالِم پهٔ باره کښې به مو داسې چرې هم نه وي اوريدلي- زهٔ داسې د طَنز پهٔ طور باندې نهٔ وايم بلکې د پوهه کولو د پاره وايم چې د چا سره دِيني عِلم وي هغوئي ته سپک مهٔ ګورئ، دا هم د الله پاک ښه بندګان دي- (ملفوظات امير اہل سنت ، 206–205/3)

---

[1]... دا سوال د شعبه ملفوظاتِ اميرِاهلِسنّت له خوا جوړ کړے شوے دے او جواب هم اميرِ اهلِسنّت دامت بَرَكَاتُهمُ العاليه عطا کړے دے-

[2]... پهٔ يو تِن کښې 28 مَنه وي او پهٔ يو مَن کښې 40 سيره وي او يو سير د يو کلو نه لږ زيات وي [پهٔ يوه دړئ کښې څلور سيره يعنې پينځه کلو وي]-

**سوال:** آیا د تعلیم حاصلولو پهٔ وخت هُنَر مثلاً کمپیوټر ډیزائننګ یا کمپوزنګ وغیره هم زده کول پکار دي؟

**جواب:** هُنر او عِلم دواړه پکار دي خو یاد ساتئ! د دې عِلم نه مُراد عِلمِ دِین دے یعنې د ټولو نه مخکښې فرض علوم او د خپلو ضروري عقیدو زده کولو نه پس ضرورتاً علومِ آلیه مثلاً مختلفې ژبې وغیره زده کړئ- خو چې هنر هم جائز وي، ګنې نو هنر خو د سود هم زده کولے شي! (ملفوظات امیر اہل سنت، 7 /421)

**سوال:** کوم کَس چې عالِمِ دِین نه وي خو پهٔ کور کښې څهٔ نا څهٔ مذهبي او اِسلامي کتابونه ساتي نو آیا د هغهٔ به ثواب کیږي؟

**جواب:** ولې به نه کیږي؟ که هغهٔ دِیني کتابونه لولي، د عِلمِ دِین سره محبت کوي نو بالکل به یې ثواب کیږي- عالِم نهٔ کیدل څهٔ ګناه خو نه ده ظاهره ده چې هر سړے عالِم هم نشي کیدے او پهٔ هر یو باندې عالِمِ دِین جوړیدل فرض هم نه دي- (1) (ملفوظات امیر اہل سنت ، 139/4)

---

(1)... یاد ساتئ! پهٔ هر عاقِل او بالِغ نارینه او زنانه مسلمان باندې د هغهٔ د اوسنو حالانو مطابق مسئلې زده کول فرضِ عین دے- (فتاویٰ رضویه، 624/23)

**سوال:** تاسو ليدلے شوي يئ چې د عِلمِ دِين ښودلو د پاره د ډيرې سختې اِظهار فرمايئ، د دې څهٔ وجه ده؟

**جواب:** الله پاک دې اِخلاص رانصيب کړي- زما د عِلمِ دِين سره محبت دے او د دِين د علمائے کرامو سره مي محبت دے- اِنسان هم د عِلمِ دِين پهٔ ذريعه باندې اِنسان جوړيږي، که د عِلمِ دِين نه خالي وي نو د ځناورو پهٔ شان حرکتونه کوي- د عِلمِ دِين حاصلولو ډير فضائل دي- يو څو پکښې عرض کووم: اِمام اِبنِ عبدُ البَر رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نقل کوي: خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد وفرمائيلو: ''خُذُوْا عَنِّیْ، خُذُوْا عَنِّیْ'' يعنې زما نه عِلم حاصل کړئ، زما نه عِلم حاصل کړئ- (جامع بيان العلم وفضله، ص 156) حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ يومِ نَحَر (10، 11 او 12 ذُوالحجة الـحرام ته ''اَيَّامِ نَحَر'' وئيلے کيږي) باندې پهٔ خپله سورلۍ باندې کښيناستو او د جمره رَمي يې وکړه او ارشاد يې وفرمائيلو: زما نه د حج احکام زده کړئ ځکه چې ما ته معلومه نه ده، کيدے شي چې زهٔ د دې کال نه پس حج اونه کړم- (جامع بيان العلم وفضله، ص 157–156) مولا علي رَضِیَ اللهُ عَـنْهُ فرمائي: څوک شته چې زما نه د عِلم پهٔ باره کښې پوښتنه وکړي چې پخپله هم فائده حاصله کړي او نورو ته هم فائده ورسوي- (جامع بيان العلم وفضله، ص 157) عظيم تابِعي بُزرګ حضرت سعيد بن جُبَير رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه به فرمائيل: زما سره د دې خبرې ډير فِکر دے چې

زما سره چې کوم عِلم دے خلق هغه حاصل کړي- (جامع بيان العلم وفضله، ص 160) د حضرت اِمام حَسَن بصري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پهٔ باره کښې ليکلے شوي دي چې هغوئي به خلقو ته پهٔ عِلم ښودلو کښې وړومبے والے کولو او فرمائيل به يې: زما نه پوښتنه وکړئ- (جامع بيان العلم وفضله، ص 160) تابعي بزرګ حضرت عُروَه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه به فرمائيل: خلقو! زما خوا له راشئ او زما نه عِلم حاصل کړئ- (جامع بيان العلم وفضله، ص 161) تابعي بزرګ حضرت عِکرِمَه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه به فرمائيل: پهٔ تاسو باندې څهٔ شوي دي چې تاسو زما نه پوښتنه نهٔ کوئ؟ آيا تاسو غريبانان او ناداره شوي يئ؟ (جامع بيان العلم وفضله، ص 161) حضرت سُفيان ثَوري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: که طالبِ عِلم زما خوا له نهٔ راځي او زما نه عِلم نهٔ حاصلوي نو پهٔ خدائے مې دې قَسم وي! زهٔ به پخپله د هغوئي کور ته ځم او عِلم به ورته ورښايم- چا عرض وکړو: حضور! پهٔ عِلم حاصلولو کښې خو د هغوئي ښه نيت هُم نه وي، اوئې فرمائيل: د هغوئي عِلمِ دِين حاصلول پخپله ښه نيت دے- (جامع بيان العلم وفضله، ص 162) حضرت اِمام شافعي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: که زما پهٔ وَس کښې وه نو عِلم به مې پهٔ اوبو کښې اچولے او پهٔ خلقو به مې څښلے- ( جامع بيان العلم و فضله، ص 162) بهر حال! پهٔ هر چا کښې د عِلمِ دِين حرص پکار دے- د دعوتِ اِسلامي پهٔ دِيني ماحول کښې هفته وار د سُنَّتو اجتماعات، مَدَني مذاکرې

او درسِ فيضانِ سُنَّت وغيره هُم د عِلمِ دِين حلقے دي د دې نه عِلم حاصليږي- که الله توفيق درکړي نو پهٔ جامـعة الـمدينه کښې داخله واخلئ، که الله وغوښتل نو عالِم به جوړ شئ او ډير عِلم به حاصل کړئ- الله دې وکړي چې پهٔ مونږ کښې د عِلم حرص پيدا شي- (ملفوظات امير اہلِ سنت ، 4/224–225)

**سوال:** د دُنيائي ترقۍ نهٔ ميلاويدو د ويرې نه د عِلمِ دِين حاصلولو نه ويريدل څنګ دي؟ (1)

**جواب:** بعضې خلق د عِلمِ دِين حاصلولو نه څکه ويريږي چې پهٔ دُنيا کښې به ورته ترقي نه ميلاويږي، کيدے شي چې دا د قبر او د اخرت د ترقۍ نه خبر نه دے څکه دا خپل اولاد هم ته د دنيائي ترقۍ ورکولو د پاره د عِلمِ دِين نه محرومه کوي- ياد ساتئ چې عِلمِ دِين نهٔ حاصلول ډيره د غفلت او تاوان سودا ده- چې تاسو خپل زوي ته صرف د دُنيا تعليم ورکړئ او د دُنيا نه لا ړ شئ او ستاسو زوي تاسو ته اِيصالِ ثواب کول غواړي هم نو نهٔ به يـې شي کولے چې ولې چې هغهٔ له به د قرآنِ کريم تلاوت نه ورځي- که چرې تاسو خپل زوي ديندار او عالِم جوړ کړئ او لا ړ شئ نو هغهٔ له

(1)... دا سوال د شعبه ملفوظاتِ اميرِاهلِسنّت له خوا جوړ کړے شوے دے او جواب هم اميرِ اهلِسنّت دامت بَرَکاتُہمُ العاليه عطا کړے دے-

به داسې ښه تلاوت ورځي چې کله هغهٔ ستاسو قبر له درځي نو تاسو به وايئ چې دا واپس نهٔ تلے ، بس زما پهٔ خوا کښې ناست وے او تلاوت يې کولے- که چرې تاسو خپل زوي له صرف د دُنيا تعليم ورکړے وي نو هغهٔ به ستاسو قبر ته څنګه راځي او تلاوت به کوي؟ که چرې هغهٔ تلاوت کوي او تاسو ته يې ايصالِ ثواب کوي نو تاسو ته به هله ثواب ميلاؤيږي چې کله هغهٔ ته ميلاؤ شي او هغهٔ ته به د تلاوت ثواب پهٔ هُغه حالت کښې ميلاؤيږي چې کله هغهٔ ته پهٔ صحيح طريقه د قرآنِ پاک لوستل ورځي- که چرې زوي پهٔ تلاوت کښې داسې غلطيانې وکړي د کومو پهٔ وجه چې ټوله معنیٰ غلطه شوه نو تاسو ته به ثواب د کوم ځائے نه ميلاؤيږي- (ملفوظات امير اہل سنت، 10 /283–284)

**سوال**: **اَلْحَمْدُ لِلّٰه**! د مَدَني مذاکرو نه ډير عِلمِ دِين زده کيږي، د دې د يادولو څهٔ اسان حل ارشاد کړئ-

**جواب**: الله کريم دې زمونږه حافظه مضبوطه کړي- پهٔ کومه خبره کښې چې مونږه Serious (يعنې سنجيده) يو نو هُغه خبره مونږ ته ياديږي- د ناشتې وخت څو بجې دے؟ هغهٔ ياد وي ځکه چې مونږه Serious يو- د Lunch (يعنې د غرمې ډوډۍ) څو بجې خوړل دي؟ پهٔ دې بجې خوړل دي ځکه چې Serious يو- د سحر د جَمعې وخت څهٔ دے؟ آؤ! څهٔ وخت دے د

سحر؟ معلومه نه ده، یا یاد نه وي ځکه چې Serious نه یو او د جَمعې سره د نـمونځ کولو د پاره نه ځو- الله دې وکړي چې مونږه د عِلمِ دِین پهٔ باره کښې Serious شو، دا اسان نهٔ اخلو بلکې دا پهٔ خپل سر باندې واخلو چې نه نه، دا یاد ساتل ډیر ضروري دي، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم! حافظه به مو مضبوطه شي- (ملفوظات امیر اہل سنت، 5 /235)

**سوال:** آیا پهٔ جنَّت کښې به هم پهٔ عِلم کښې اضافه کیږي؟


**جواب:** آؤ جي! عِلم بے شکه د الله پاک نعمت دے ځکه به پهٔ جنَّت کښې هم پهٔ عِلم کښې اِضافه کیږي- (ملفوظات امیر اہل سنت، 1/451)

**صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد**

## دا رساله ولولئ او نورو له یـې ورکړئ

د غم ښادۍ پهٔ دستورو، اجتماعاتو، عُرسونو، د میلاد پهٔ جلوسونو وغیره کښې د مکـتبة الـمدینه چاپ کړے شوې رسالې او د مَدَني ګولونو پمفلټس تقسیم کړئ او ثواب وګټئ، ګاهک ته د ثواب پهٔ نیت پهٔ تحفه کښې د ورکولو د پاره پهٔ خپلو دکانونو کښې د رسالو کیښودو معمول جوړ کړئ، د اخبار خرخوونـکو پهٔ ذریعه د خپلې محلې کور کور ته د میاشتې کـم از کـم یوه د سُنَّتو نه ډکه رساله یا د مَدَني ګلونو پمفلټ ورکړئ او د نیکۍ دعوت عام کړئ او ښه ډیر ثواب وګټئ-

## د راروانې هفتې رساله





فیضانِ مدینه محلّه سوداګران، زړه سبزي منډۍ کراچۍ

UAN +92 21 111 25 26 92 0313-1139278

www.maktabatulmadinah.com / www.dawateislami.net

feedback@maktabatulmadinah.com / ilmia@dawateislami.net